

## بل صنم نشته

**مه مي ډاره وه له جدايي خپل چي مي زغم نشته**
**بی د ستا تسل نه ځما ټپو ته بل مرهم نشته**
**ما یواځی مه پرېږده چی ژوند سمبا لوی نشم**
**ته چي مي په څنګ اوسي نور ماسره بل غم نشته**
**ستا پستي خبری ما ته روح او ساه بخښی**
**بی له تا په ژوند کي ما ته بل محرم نشته**
**ما «مل» ژوندانه کی یار پرتا تکیه کړي دي**
**بی له تا ځما په یارانه کی بل صنم نشته**

------------------- پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»
جرمنی «2026-95-11»